


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!

فريد احمد « تسکين » ـ پکتيا
د نشر نيټه : ۳۱ جنوری ۲۰۱۳م



# پکتيا والو ځوانانو دغزل شپه رڼه کړه!



**هغه مشاعره چې د غزل شپې په نامه بيګا شپه د سحر په سپورتي کلپ کې په لاره اچول شوې وه پکې په سل ګونو شاعرانواو د ادب مينه والو ګډون کړی و.**

**ګډون کوونکوپه خپلوشعرونو ګرمو احساساتو او ټنګ ټکور سره تر سهاره دا شپه مينې ته دخلکو د رابللو لپاره رڼه کړه.**

**د پکتيا ولايت فرهنګيان وايي ، دامشاعره يې د فرهنګيانو د يووالي او خپلو کې د همکارۍ لپاره په لاره اچولې وه.**

**بلال معروف افغان چې د مشاعرې د سمبالښت چارې ورله غاړې وې ګډونوالو ته ښه راغلاست ووايه او دمشاعرې د نمانځل کيدو په اړوند يې خبرې وکړې.**

نومورِي وويل:(( دامشاعره د پکتیا د خورو ور فرهنګیانو د یوځای کیدو او په خپلو کې د یوبل سره د همکارئ د کولو په موخه رابلل شوې وه،دا لومړی د غزل شپه نه وه بلکې له دې وړاندې هم د پکتیا د با احساسه ځوانانو لخوا ورته د غزل شپې جوړې شوې وې.))
د معروف افغان په خبره د دې مشاعرې مالي لګښت د پکتیا د فرهنګیانو لخوا شوی و او هیڅ کوم سیاسي او دولتي ارګان ورسره مرسته نه ده کړې.
د معروف افغان له قوله ځینې غونډې او مشاعرې د ځینو اشخاصو لخوا د خپلو شخصي موخو لپاره په لاره اچول کیږي او د پکتیا د ځوانانو د روزنې لپاره یې د خدای ج لپاره کوم کار نه دی کړی.
شاعراو لیکوال شفیق الله رنځورچې همدې غونډې رابلل شوی و خوښ ښکاریده رسنیو ته وویل:((خوښ یم چې د غزل شپې په دې رنګینه غونډه کې ګډون کوم او نور ځوانان هم رابولم چې زموږ سره په دې روان بهیر کې ملګري شي.))
رنځور وویل راځئ چې نور له کرکې تېر شو او دمینې د پیغمبر په حیث دې دردیدلي ولس ته نه سترې کیدونکې هلې ځلې وکړو.
رنځور د خپل پیغام له لارې په فرهنګیانو غږ وکړ چې نور خپلوکې سره یو شي او د کرکې او بدبینیو له تیارو ځان راوباسي او خپلې خوږې ژبې پښتوته د خدمت جوګه شي.
د پکتیا یوتن فرهنګ پال اسد الله خاطر دا ډول بنډارونه د ځوانانو د فکري قوې په روزلو او د دوی په یووالي کې خورا ارښتمند بولي.
دی وایي دا شان غونډې نه یوازې چې د ځوانانو د استعدادونو د روزلو لامل کیږي بلکې ورسره د ځوانانو د یووالي ترځنګ د خپل کلتور او د خپلې ژبې د ودې او پراختیا لامل هم کرځي.
نوموړی له حکومت ،خیریه موسسو او افغان تجارانو غواړي چې د افغان ځوانانو د فکر د روزنې لپاره منظم پلانونه جوړکړي او د دوی د کارونو په ښه کېدوکې ورسره خپلې مالي مرستې ونه سپموي.
د پکتیا فرهنګیانو چې پخوایې په غونډو کې ګډون نه کاوه علت یې د پکتیا د ولایتي چاږواکو له لوري د دوی ترمینځ د بې اتفاقۍ کرښې راښکل دي او اوس هم هڅه کوي چې دې لړۍ ته دوام ورکړي.
د یادولو وړ ده چې په پکتیا کې د نویو ځوانانو په نوښت دا دریمه د غزل شپه وه چې په خپلو ګرمو احساساتو یې په شاندارو مراسمو ونمانځله.
غونډه د پکتیا د سیمه ایزو سندرغاړو د موسیقۍ په غږولو پای ته ورسېده.
راپور: فرید احمد تسکین ـ پکتیا د سلواغې ۲۱/۱۱/۱۳۹۱ نېټه

بازګشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org

هره لیکنه د لیکوال خپل نظر دی او خپله دلیکوال اند ځرګندوی
استفاده از مطالب سایت « ارگان نشراتی صلح و تفاهم مولانا سعید افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است